لــه يــاده وتـلي

# پـنـځـوس نـبـوي سـنتونه

ژباړن : لقمان حکيم حکمت

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژباړن سریزه

نَحْمَدُهُ وَ نُصَلِّيْ عَلَى رَسُوْلِهِ الكَرِيْمِ وَبَعْد:

د نبي كريم صلى الله عليه وسلم له سنتو سره مينه او محبت او په ژوند كې نبوي سنتو باندې عمل درامد د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره د پوره مينې لرلو نښه او ستره علامه ده، له دې كبله بدعتونه په دين كې د غليظ حرمت حكم لري. له دې كبله عمر بن عبدالعزيز رحمه الله فرمايي: ( اِذَا رَأَيْتَ قَوْماً يَتَنَاجُوْنَ فِيْ دِيْنِهِمْ بَشِيْءٍ دُوْنَ العَامَّةِ فَاعْلَمْ أَنَّهُمْ عَلَى تَأْسِيْسِ ضَلاَلَةٍ )

ژباړه: كله چې داسې قوم او خلك ووينې چې په ديني چارو كې له عوامو پرته خپل منځ كې كنكوسى كوي نو ويوهېږه چې د كومې بې لارې تاسيس كې بوخت دي.

او امام شافعي رحمه الله وايي : اِذَا وَجَدْتُّم سُنَّةً لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاتَّبِعُوْهَا وَلاَ تَلْتَفِتُوْ اِلَى قَوْلِ أَحَدٍ ) [حلية الأولياء: ۹ / ۱۰۷ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: چې کله هم د نبي صلی الله علیه وسلم سنت ووینئ نو ویې منئ او په ضد کې یې د هیڅ چا خبرې ته مه ګورئ .

له دې کبله پر نبوي سنتو ځانګړی خیال کول د ښه مسلمان شېوه ده، ترڅو په سنتو باندې د عمل درامد له مخې د بدعتونو مخه ونیول شي.څومره چې بدعتونه ساه اخلي او ژوندي کیږي هومره ورسره نبوي سنت مړه کیږي . مبرة التواصل الخیریة د ( سنن منسیة ) په نوم پنځوس نبوي ارشادات چې واقعا له خلکو هېر دي په جالب انداز ټولنې ته وړاندې کړي دي چې ستاسو د ښه مستقبل په خاطر مې پښتو ته ترجمه کړل.الله پاک دې دا عمل خالص د هغه د رضا لپاره وګرځوي او رب کریم دې په دې کتاب د ډېرو اسلامي داعیانو پام د نبوي سنتو راژوندي کولو ته واړوي.

لقمان حکیم حکمت

Hekmat۰۳٤٤@gmail.com

۲۰۱۷/۱۰/۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پښې ابله تلل**

١ – : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ ( كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا أَنْ نَحْتَفِيَ أَحْيَانًا ) [سنن ابي داود: ٤١٦٠]

ژباړه: له عبدالله بن بریده رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به مونږ ته کله ناکله امر کوو چې پښې ابله شو.

**په درې ګوتو خوراک کول:**

٢ – : عَنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ( كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ بِثَلَاثِ أَصَابِعَ، وَيَلْعَقُ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يَمْسَحَهَا ) [ صحيح مسلم: ٢٠٣٢]

ژباړه: له کعب بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په دریو ګوتو خوراک کو او ګوتې به یې له پاکولو نه مخکې په ژبه څټلې.

**له خوب نه وروسته په سترګو لاس راښکل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣ – : عَنْ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَلَسَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ بِيَدِهِ ) [ صحيح البخاري: ١٨٣ ]

ژباړه: د نبي کريم صلى الله عليه وسلم له بي بي ميمونې رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له خوبه راپورته شو، کښيناست او بيا يې په لاس باندې له خپل مخ نه خوب مسح کو.

**دتوبې لمونځ کول:**

٤ – : عَنْ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [ مَا مِنْ عَبْدٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا، فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللهَ إِلَّا غَفَرَ اللهُ لَه ) [ سنن ابي داود: ١٥٢١، صحيح الجامع: ٥٧٣٨ ]

ژباړه: له ابوبکر رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي ويل يې : هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بنده ګناه نه کوي او بیا ښایسته اودس وکړي بیا پورته شي او دوه رکعته لمونځ وکړي او له الله څخه بخشش وغواړي مګر الله به ورته بخښنه وکړي.

## له مجلس او لمونځ نه وروسته دعا

۵ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ جَلَسَ فِي مَجْلِسٍ فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ، فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَقُومَ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ، إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ ) [ جامع الترمذي: ۳٤۳۳]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې په کوم مجلس کې کېني او د ګناه خبرې یې پکې ډېرې شي او له مجلس څخه د پاڅېدو نه مخکې دا ووایي: سبحانک اللّٰهُمَّ... ای الله تا لره پاکي ده او ثنا هم تا لره ده، زه د دې ګواهي کوم چې له تا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته بل برحق معبود نشته، زه له تا نه بخشش غوارم او تا ته توبه اوباسم، مګر د مجلس تېوله ګناه به ورته وبښل شي.

عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا جَلَسَ مَجْلِسًا أَوْ صَلَّى تَكَلَّمَ بِكَلِمَاتٍ، فَسَأَلَتْهُ عَائِشَةُ عَنِ الْكَلِمَاتِ، فَقَالَ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ ) [ سنن النسائي: ١٣٤٤]

ژباړه: له عایشې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به کله په مجلس کې کېناست او یا به یې لمونځ وکړ نو څه کلمات به یې ویل، نو عایشې رضي الله عنها ترې ددغو کلماتو پوښتنه وکړه، هغه ورته وویل: سبحانک اللّٰهُمَّ...

## د شپې له مخې د لوښو او کالو سر پټول

٦ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: ( غَطُّوا الْإِنَاءَ، وَأَوْكُوا السِّقَاءَ، فَإِنَّ فِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



السَّنَةِ لَيْلَةً يَنْزِلُ فِيهَا وَبَاءٌ، لَا يَمُرُّ بِإِنَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ غِطَاءٌ، أَوْ سِقَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ وِكَاءٌ، إِلَّا نَزَلَ فِيهِ مِنْ ذَلِكَ الْوَبَاءِ ) [ صحيح مسلم: ۲۰۱٤ ]

ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روايت دى چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي ويل يې: د شپې له مخې د لوښو سرونه پټ کړئ او مشکيزې مو وتړئ، په کال کې يوه شپه ده چې مرضونه پکې راښکته کيږي، په هيڅ لوښي نه تيريږي چې سر يې خلاص وي مګر له دغي وبا څخه ورته يو څه ورښکته شي.

### د مسواک استعمالول

۷ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( لَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي أَوْ عَلَى النَّاسِ لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ مَعَ كُلِّ صَلاَةٍ ) [ صحيح البخاري: ۸۸۷ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلى الله عليه وسلم فرمايي: كه مې په امت باندې سختي نه راتله يا په خلكو سخته نه وه نو امر به مې ورته كړى و چې له هر لمونځ سره مسواک استعمال كړي.

**له ننوتو مخكې درې ځله اجازه غوښتل:**

۸ – : عَنْ أَبِيْ مُوْسَى أَشْعَرِيْ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ( الاِسْتِئْذَانُ ثَلاَثٌ، فَإِنْ أُذِنَ لَكَ، وَإِلاَّ فَارْجِعْ ) [ جامع الترمذي: ۲۶۹۰ ]

ژباړه:له ابوموسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: اجازه بايد درې ځل وغوښتل شي، كه اجازت شي – نو ننوځه – ورنه بېرته ستون شه.

**كورته د ننوتو او وتلو په مهال دوه ركعتونه لمونځ كول:**

۹ – : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ( إذا خرجت من منزلك فصل ركعتين

(c) ketabton.com: The Digital Library



يمنعانك من مخرج السوء، وإذا دخلت إلى منزلك فصل ركعتين يمنعانك من مدخل السوء ) [ سلسلة الأحاديث الصحيحة: ١٣٢٣ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: كله چې له كور څخه وځې نو دوه ركعته وكړه تا به له ناكاره مخرج څخه وساتي، او چې كله كور ته ننوځې نو دوه ركعته وكړه تا به له ناكاره مدخل – ننوتون ځاى – څخه وساتي.

**له مؤذن سره د اذان كلمات ويل:**

١٠ – : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ: رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ: اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاَةِ القَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ، حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ القِيَامَةِ ) [ صحيح البخاري: ٦١٤، ٤٧١٩ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې اذان واوري او بیا ووايي: ای الله د دې پوره دعوتنامې او د دائمي لمونځ ربه! محمد صلی الله علیه وسلم ته لوړه مرتبه او غیر منتهي لوړ منزلت ورکړه، او د شفاعت هغه مقام ته يې ورسوه چې تا يې ورسره وعده کړې ده، نو د دغه انسان لپاره به د قیامت په ورځ زما سفارش واجب او ثابت شي.

**په ماشومانو سلام کول:**

١١ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ مَرَّ عَلَى غِلْمَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ ) ] صحيح مسلم: ٢١٦٨ ]

ژباړه:له انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ماشومانو باندې تېرېده نو سلام يې پرې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پورته کېدو او ښکته کېدو اذکار:

۱۲ – : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [ كُنَّا إِذَا صَعِدْنَا كَبَّرْنَا، وَإِذَا نَزَلْنَا سَبَّحْنَا ) [ صحيح البخاري:۲۹۹۳ ]

ژباړه:له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روایت دي چې کله به مونږ پورته ختلو نو الله اکبر به مو ویل، او چې په ښکته به کوزېدو نو سبحان الله به مو ویل.

## په پېژندګلو او نه پېژندګلو ټولو باندې سلام کول:

۱۳ – : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ؟ قَالَ: «تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ، وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ ) [ سنن ابي داود: ۵۰۰۰ ]

ژباړه: له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روایت دی چې یو سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې د اسلام کوم خصلت ډېره غوره دی؟ هغه ورته وویل: دا چې خوراک ورکړې او پر هغه چا سلام وکړې چې یې پېژنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که يې نه پېژني.

**په ناسته باندې اوبه څښل:**

١٤ – : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يَشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِمًا»، قَالَ قَتَادَةُ: فَقُلْنَا فَالْأَكْلُ، فَقَالَ: «ذَاكَ أَشَرُّ أَوْ أَخْبَثُ ) [ صحيح مسلم: ٢٠٢٤ ]

له انس رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم په ولاړه باندې له اوبو څښلو نه منعه کړې ده، قتاده وايي مونږ انس رضي الله عنه ته وويل: او په ولاړه خوراک کول؟ هغه وويل: دا خو بيخي ډېر بې خيره او يا ډېر پليت کار دی.

**په لمونځ کې د وسوسې په مهال کيڼ لورې ته توکاڼې**

١٥ – : عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ، أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ أَبِي الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بَيْنِي وَبَيْنَ صَلَاتِي وَقِرَاءَتِي يَلْبِسُهَا عَلَيَّ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خَنْزَبٌ، فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْهُ، وَاتْفِلْ عَلَى يَسَارِكَ ثَلَاثًا» قَالَ: فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللهُ عَنِّي ) [ صحيح مسلم: ٢٢٠٣ ]

ژباړه: ابوالعلاء وايي چې عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه نبي صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته يې وويل: ای د الله رسوله! شيطان زما او د لمونځ په منځ کې مانع واقع کيږي لمونځ او قرائت راباندې ګډوډوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: دغه شيطان ته خنزب ويل کيږي، چې کله ترې څه محسوس کړې نو الله پورې ترې پناه ونيسه او خپل کيڼ لورې ته درې ځل توکاڼې واچوه، عثمان وايي: ما همدغه شان وکړل نو الله پاک رانه شيطان وتښتو.

**د خوب په مهال اودس کول:**

١٦ – : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قال قَالَ رسُوْلُ اللهِ صَلَّى

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( طهروا هذه الأجساد طهركم الله فإنه ليس عبد يبيت طاهرا إلا بات معه ملك في شعاره لا ينقلب ساعة من الليل إلا قال: اللّٰهُمَّ اغفر لعبدك فإنه بات طاهرا ) [ صحيح الجامع الصغير: ٣٩٣٦ ]

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله دې تاسو پاک کړي خپل بدنونو مو پاک وساتئ، هیڅ انسان خپله په طهارت کې نه تیروي مګر ملائک یې ورسره په جامه کې شپه تېره کړي او د شپې هیڅ وخت په دې نه اوړي مګر ملائک وايي: ای الله ستا دې بنده ته بخشش وکړه ځکه ده شپه په طهارت کې تېره کړه.

**له مسلمان سره خندل:**

١٧ - : عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا، وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ ) [ صحيح مسلم: ٢٦٢٦ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی چې ما ته نبي صلی الله عليه وسلم وويل: د خير هېڅ کار کم او سپک مه ګڼه، که څه هم د خپل مسلمان ورور سره په ورين تندي ملاقات ولې نه وي.

**په پڼو کې لمونځ کول:**

١٨ - : عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَالِفُوا الْيَهُودَ فَإِنَّهُمْ لَا يُصَلُّونَ فِي نِعَالِهِمْ، وَلَا خِفَافِهِمْ ) [ سنن ابي داود: ٦٥٢ ]

ژباړه: له شداد بن اوس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: له يهودانو سره مخالفت وکړئ، هغوی په خپلو پيزارونو او بوټانو کې لمونځ نه کوي – مطلب تاسو وريکې لمونځونه وکړئ.

**په خوړو عيبونه نه ګول:**

١٩ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ( مَا عَابَ النَّبِيُّ صَلَّى

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ، إِنِ اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ، وَإِنْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ )

[ صحيح البخاري: ٥٤٠٩، صحيح مسلم: ٢٠٦٤ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم هېڅکله په خوارو باندې عيب نه دی لګولی، که به يې ورته زړه وشو خوړل به يې او که به يې ورته زړه ونه شو نو پرېښوده به يې.

**له اذان نه وروسته دعا ويل:**

٢٠ – : عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: ( مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، غُفِرَ لَهُ ذَنْبُه ) [ صحيح مسلم: ٣٨٦ ، صحيح الجامع: ٦٤٢٢]

ژباړه: له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې له مؤذن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه ( اذان ) واوري او بیا ووایي: أشهد... زه د دې ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل برحق معبود نشته هغه یواځې دی هیڅ شریک نه لري او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه بنده او حق استازی دی، په الله باندې د رب په توګه، او په محمد صلی الله علیه وسلم باندې د اسماني استازي په توګه او په اسلام باندې د دین په توګه خوشحاله یم ، نو ټول ګناهونه به ورته وبښل شي.

**له خوب نه مخکې سورت اخلاص او معوذتین لوستل:**

٢١ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ( أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ، ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا فَقَرَأَ فِيهِمَا: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ، ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ، يَبْدَأُ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ وَوَجْهِهِ وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ يَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ ) [ صحيح البخاري: ٥٠١٧ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له عایشې رضي الله عنها نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې به کله هم هره شپه خپلې بسترې ته راغی خپل لاسونه به یې لپه کړل، کوپ به یې پکې وکړل او قل هو الله احد، قل اعوذ برب الفلق، قل أعوذ برب الناس به یې په کې ولوستل او چې د بدن تر کومه به یې لاس رسیده پر هغه ځای به یې راښکو، له سر او مخ او د بدن له مخامخ نه به یې شروع وکړه تول بدن به یې مسح کړ، درې ځل به یې دا کار کو.

**د څاښت لمونځ کول:**

۲۲ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ( أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلاَثٍ لاَ أَدَعُهُنَّ حَتَّى أَمُوتَ: «صَوْمِ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَصَلاَةِ الضُّحَى، وَنَوْمٍ عَلَى وِتْرٍ ) [ صحیح البخاري: ۱۱۷۸]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې ما ته مې دوست په درې شیانو وصیت کړی دی چې تر مرګه به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پرېږدم: له هرې میاشت نه درې ورځې روژه نیول، د څاښت لمونځ او له ویده کېدو نه مخکې وتر کول.

**د غسل په مهال لومړی اودس کول:**

۲۳ – : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، ( أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ بَدَأَ فَغَسَلَ يَدَيْهِ، ثُمَّ تَوَضَّأَ كَمَا يَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ، ثُمَّ يُدْخِلُ أَصَابِعَهُ الْمَاءَ فَيُخَلِّلُ بِهَا أُصُولَ شَعْرِهِ، ثُمَّ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثَ غُرَفٍ، ثُمَّ يُفِيضُ الْمَاءَ عَلَى جَسَدِهِ كُلِّه ) [ سنن النسائي: ۲٤۷ ]

ژباړه: له عایشې رضي الله عنها نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم به کله هم له جنابت څخه غسل کول، نو شروع به یې وکړه او لاسونه به یې ووینځل، بیا به یې لکه د لمونځ لپاره اودس وکړ، بیا به یې اوبو ته ګوتې ورننکته کړې او د وېښتانو بېخونه به یې پرې لانده کړل، بیا به یې په سر باندې درې لپې اوبه واچولې، بیا به یې په ټول بدن اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وارولې .

**د نويو کاليو ( جامو ) په وخت کې دعا:**

۲٤ – : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ ( كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا سَمَّاهُ بِاسْمِهِ، عِمَامَةً، أَوْ قَمِيصًا، أَوْ رِدَاءً، ثُمَّ يَقُولُ: «اللَّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ، أَسْأَلُكَ خَيْرَهُ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ ) [ جامع الترمذي: ۱۷٦۷ ]

ژباړه: له ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې کله به رسول الله صلی الله عليه وسلم نوی کالي واچول نو نوم به يې ورله ياد کړ چې پټکی، يا کميس او څادر بيا به يې وويل: اللّٰهُمَّ... ای الله! ستا لپاره ډېرې ثناګانې دي چې تا راته دا پوښاک راواغوندو، له تا څخه د دې پوښاک خير غواړم او هغه خير درنه غواړم چې دا پوښاک يې له کبله جوړ شوی دی، او تا پورې د دې پوښاک له شر نه پناه غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له هغې شر نه درېورې پناه غوارم چې دا پوښاک یې له کبله جوړ شوی دی.

**د چرګ له اواز سره دعا ویل:**

۲۵ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ( إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ، فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا، وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِنَّهُ رَأَى شَيْطَانًا ) [ صحيح البخاري: ۳۳۰۳ ]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: کله چې تاسو د چرګ اواز واورئ نو له الله څخه د هغه د مهربانۍ سوال وکړئ ځکه چې ملائک یې لیدلی وي، او کله چې د خر رمبارې واورې نو د الله پورې له شیطان نه پناه ونیسې ځکه چې شیطان یې لیدلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له هر لمونځ نه وروسته ايت الکرسي لوستل:**

٢٦ - : عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ( من قرأ آية الكرسي دبر كل صلاة مكتوبة لم يمنعه من دخول الجنة إلا أن يموت ) [ صحيح الجامع: ٦٤٦٤ ]

ژباړه: له ابوامامه رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې د هر فرض لمونځ نه وروسته ايت الکرسي ولولي نو جنت له ننوتو يې يواځې مرګ رابندوي.

**له سفر څخه د ستنېدو په مهال مسجد کې دوه رکعته لمونځ کول:**

٢٧ - : عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( كَانَ لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحَى، فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ، فَصَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ جَلَسَ فِيهِ ) [صحيح مسلم: ٧١٦]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له کعب بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به له سفر څخه نه راستنېده مګر د سهار په مهال، خو چې کله به راورسېد نو په مسجد کې به يې په دوو رکعته پيل وکړ او بیا به په کې کیناست.

**د رواتبو سنتونو خاص خیال ساتل:**

۲۸ - : عَنْ أُمِّ حَبِيْبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( من صلى في يوم وليلة ثنتي عشرة ركعة بني له بيت في الجنة: أربعا قبل الظهر وركعتين بعدها وركعتين بعد المغرب وركعتين بعد العشاء وركعتين قبل صلاة الغداة )

[ صحيح الجامع: ٦٣٦٢ ]

ژباړه: له ام حبیبي رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: څوک چې په شپه او ورځ کې دولس رکعته لمونځ وکړي نو الله پاک به ورله په جنت کې کور ودان کړي، څلور رکعتونه له ماسپښين نه مخکې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه ورځخه ورروسته، او دوه له ماښام نه ورروسته او دوه له ماسخوتن نه ورروسته او دوه له سهار نه مخکې.

**سپين وېښته له تورولو نه ساتل:**

۲۹ – : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ ( أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثَّغَامَةِ بَيَاضًا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «غَيِّرُوا هَذَا بِشَيْءٍ، وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ ) [ صحيح مسلم: ۲۱۰۲ ]

ژباړه: له جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دی چې د مکې د فتح په ورځ د ابوبکـــر رضي الله عنه پلار ابوقحافه په داسې حالت کې راوستل شو چې سر او ګېره يې لکه د ثغامه بوټي په څېر تک سپين و، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: سپينوالی يې په څه شي بدل کړئ خو له تور رنګ نه ځان وساتئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وتر لمونځ

۳۰ - : عَنْ أَبِيْ بَصْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( إن الله زادكم صلاة وهي الوتر، فصلوها بين صلاة العشاء إلى صلاة الفجر ) [ سلسلة الأحاديث الصحيحة : ۱۰۸ ]

ژباړه: له ابو بصره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: تاسو ته الله پاک د وتر په نوم اضافي لمونځ هم درکړی دی، د ماسخوتن او سهار لمونځ ترمنځ یې وکړئ.

## ایکې یوائې د جمعې په ورځ روژه نه نیول:

۳۱ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «لاَ يَصُومَنَّ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الجُمُعَةِ، إِلَّا يَوْمًا قَبْلَهُ أَوْ بَعْدَهُ ) [ صحيح البخاري: ۱۹۸۵، صحيح مسلم: ۱۱۴٤ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له نبي صلی الله عليه وسلم نه اورېدلي دي ويل يې: ايکې يواځې د جمعې ورځې روژه دې هېڅوک نه نيسي مګر دا چې يوه ورځ روژه ترې مخکې يا وروسته ونيسي.

**مسجد ته د ښځې له مخې د ښځو تلل:**

٣٢ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( ائْذَنُوا لِلنِّسَاءِ بِاللَّيْلِ إِلَى الْمَسَاجِدِ ) [ صحيح البخاري: ٨٩٩، صحيح مسلم: ٤٤٢ ]

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د شپې له مخې ښځو ته اجازت ورکړئ چې مسجدونو ته ولاړې شي.

**له شېدو وروسته مضمضه کول:**

٣٣ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( شَرِبَ لَبَنًا فَمَضْمَضَ، وَقَالَ: «إِنَّ لَهُ دَسَمًا )
[صحيح البخاري:٢١١، صحيح مسلم: ٣٥٨، جامع الترمذي: ٨٩ ]

ژباړه: له عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم شيدې وڅښلې او بيا يې خوله ووينځله او ويې ويل: په باوري توګه چې شيدو لره غوړځي ده.

**د جمعې ورځې سهار لمونځ کې سورت سجده او سورت دهر لوستل:**

٣٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ( كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الجُمُعَةِ فِي صَلاَةِ الفَجْرِ الم تَنْزِيلُ السَّجْدَةُ وَهَلْ أَتَى عَلَى الإِنْسَانِ ) [ صحيح البخاري: ١٠٦٨ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د جمعې د ورځې په سهار لمونځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



الم تنزيل سجده او هل أتى على الانسان سورتونه لوستل.

**تحية المسجد کول که څه هم امام خطبه ولې نه وايي:**

۳۵ – : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ ( دَخَلَ رَجُلٌ يَوْمَ الجُمُعَةِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ، فَقَالَ: «أَصَلَّيْتَ؟» قَالَ: لاَ، قَالَ: «قُمْ فَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ ) [ صحيح البخاري: ۹۳۱ ]

ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې د جمعې په ورځ يو سړی مسجد ته راننوت او نبي صلى الله عليه وسلم خطبه کوله، نو سړي ته يې وويل: اي لمونځ دې وکړ، هغه وويل : نا، نو ورته يې وويل: پورته شه او دوه رکعته لمونځ وکړه.

**د پرکالي يا ستړيا په وخت کې په ناسته لمونځ کول:**

۳۶ – : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا حَبْلٌ مَمْدُودٌ بَيْنَ السَّارِيَتَيْنِ، فَقَالَ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«مَا هَذَا الحَبْلُ؟» قَالُوا: هَذَا حَبْلٌ لِزَيْنَبَ فَإِذَا فَتَرَتْ تَعَلَّقَتْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ حُلُّوهُ لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ، فَإِذَا فَتَرَ فَلْيَقْعُدْ ) [ صحيح البخاري: ۱۱۵۰ ]

ژباړه: له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم ( کور ته ) ننوت نو د دوو ستنو ترمنځ يې ځړېدلې رسۍ ( پړی ) وليده، ويې ويل: دا د څه شي رسۍ ده؟ هغوی ورته وويل: دا د زينب رضي الله عنها رسۍ ده چې کله په لمونځ ستړې شي نو ځان ورپورې وتړي، نو نبي صلى الله عليه وسلم وويل: نا، رسۍ پرانيزئ، په تاسو کې دې هر څوک دومره عبادت وکړي چې څومره بيدار وي، خو چې ستړی شي بايد کيني.

**غائبانه کې مسلمان ورور ته دعا کول:**

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَدْعُو لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



إِلَّا قَالَ الْمَلَكُ: وَلَكَ بِمِثْلٍ ) [ صحيح مسلم: ٢٧٣٢، صحيح الجامع: ٥٧٣٧ ]

ژباړه: له ابودرداء رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: هېڅ مسلمان نشته چې د خپل ورور لپاره غائبانه دعاګانې کوي مګر ملائک يې پر دعا دا وايي: ستا دي هم دغومره اجر وشي.

**د شکر سجده کول:**

٣٨ - : عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ ( إِذَا جَاءَهُ أَمْرُ سُرُورٍ أَوْ بُشِّرَ بِهِ خَرَّ سَاجِدًا شَاكِرًا لِلّٰهِ ) [ سنن ابي داود: ٢٧٧٤ ]

ژباړه: له ابوبکره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم ته چې به کله د خوشحالۍ څه شی راغلل يا به پرې د خوشحالۍ زيرۍ وشو نو الله ته به د شکر په حالت کې په سجده باندې پرېوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډېر استغفار ويل:**

۳۹ – : عَنِ الْأَغَرِّ الْمُزَنِيِّ، وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي، وَإِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ، فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ » [ صحيح مسلم: ۱۵۱۵ ]

ژباړه: له اغر مزني رضي الله عنه چې صحابى دى ورځخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي: زما پر زړه باندې هم غفلت راځي او زه په ورځ کې له الله څخه سل ځله بخشش غواړم.

**د باران راښکته کېدو په مهال باران ته ودرېدل:**

٤٠ – : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: أَصَابَنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلّى الله عليه وسلم مَطَرٌ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَسَرَ ثَوْبَهُ عَنْهُ حَتَّى أَصَابَهُ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ لِمَ صَنَعْتَ هَذَا؟ قَالَ: «لِأَنَّهُ حَدِيثُ عَهْدٍ بِرَبِّهِ » [ سنن ابي داود: ۵۱۰۰]

(c) ketabton.com: The Digital Library



له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې مونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره و او باران راباندې راښکته شو، له ځان نه یې کپړه پورته کړه تر دې چې باران پرې وشو، مونږ ورته وویل: د الله رسوله! دا دې ولې وکړل؟ هغه وویل: ځکه چې دا تازه د الله له خوا نه راغی.

**لویدلی خڅوګی پاکول او خوړل:**

٤١ – : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ أَصَابِعَهُ الثَّلَاثَ، وَقَالَ: «إِذَا مَا وَقَعَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيُمِطْ عَنْهَا الأَذَى وَلْيَأْكُلْهَا، وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ، وَأَمَرَنَا أَنْ نَسْلِتَ الصَّحْفَةَ»، وَقَالَ: «إِنَّكُمْ لَا تَدْرُونَ فِي أَيِّ طَعَامِكُمُ البَرَكَةُ ) [ جامع الترمذي: ۱۸۰۳ ]

ژباړه: له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به کله خواړه وخوړل نو درېواړه ګوتې به یې وڅټلې،اوویل به یې: کله چې تاسو کې له چا څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړی ولویږي نو ګنډکي دې ترې پاکه کړي او ودې خوري خو شیطان ته دې نه پرېږدي، او په دې يې هم مونږ ته امر کړی دی چې لوښی وختو، او ویل به يې: تاسو ته ددې پته نشته چې برکت مو د خوراک په کومه برخه کې دی.

**د شپې له شروع کېدو سره ماشومان له کوره بهر نه پرېښودل:**

٤٢ – : جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ – أَوْ أَمْسَيْتُمْ – فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْتَشِرُ حِينَئِذٍ، فَإِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَخَلُّوهُمْ، وَأَغْلِقُوا الْأَبْوَابَ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا، وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ، وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ، وَلَوْ أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهَا شَيْئًا، وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ ) [ صحيح مسلم: ٢٠١٢، صحيح الجامع: ٧٦٤ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: جابر بن عبدالله رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي دي: کله چې شپه تورتم شي – يا په تاسو ماښام شي – نو ماشومانان مو له کرځېدو بند کړئ، ځکه دغه وخت کې شيطانانان خورېږي خو چې د شپې څه برخه تېره شي نو بېرته ماشومانان پرېږدئ، دروازې بندې کړئ او د الله نوم پرې ياد کړئ، شيطان بندې دروازې نه شي خلاصولی، د مشکونو خولې مو هم وتړئ او د الله نوم پرې ياد کړئ، د لوښو کاليو سرونه مو پټ کړئ او د الله نوم پرې ياد کړئ ولو که په سر يې څه شی په اوږدو هم کېږدئ – لکه لرګی – ، او ډيوې – اورونه – مو هم مړې کړئ.

**نيم لمر او نيم سيوري ته نه کېناستل:**

٤٣ – : عَنْ أَبِيْ عَيَاضٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نهى أنْ يجلسَ بين الضَّحِّ والظل، وقال: مجلس الشيطان ) [ سلسلة الأحاديث الصحيحة : ٣١١٠ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ابوعیاض له یو صحابي څخه روایت کوي چې نبي صلی الله علیه وسلم له دې څخه منع کړې ده چې څوک دې نیم سیوري او نیم لمر ته کېني، او وېویل: دا د شیطان ناستځی دی.

**توبه کې رښتنولي:**

٤٤ - : عَنْ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ (قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللهِ وَإِلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ:أَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ) [ صحيح البخاري: ٢٧٥٧]

قال ابن القيم: وَقَوْلُ كعب: «يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي . دَلِيلٌ عَلَى اسْتِحْبَابِ الصَّدَقَةِ عِنْدَ التَّوْبَةِ بِمَا قُدِرَ عَلَيْهِ مِنَ الْمَالِ.) [ زاد المعاد: ٣ / ٥١٢ ]

ژباړه: کعب رضي الله عنه وايي چې ما وويل: ای د الله رسوله! د توبې د قبلېدو – په خوشحالۍ کې – زه غواړم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتمني مې الله او دهغه رسول ته صدقه کړم، هغه وويل: ځينې شتمني دې له ځان سره پرېږده دا به درله ډېره غوره وي.

ابن القيم رحمه الله وايي: د کعب رضي الله عنه په دې قول کې چې د توبې د قبلېدو په خوشحالۍ کې بايد زه خپل مال الله پاک او د هغه رسول لپاره صدقه کړم، دا به دې دليل دی چې د توبې د قبلېدو په مهال د توان مطابق صدقه کول مستحب دي.

**له خوب نه مخکې بستره څنډل:**

٤٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ إِذَا أَوَى أَحَدُكُمْ إِلَى فِرَاشِهِ، فَلْيَأْخُذْ دَاخِلَةَ إِزَارِهِ، فَلْيَنْفُضْ بِهَا فِرَاشَهُ، وَلْيُسَمِّ اللَّهَ، فَإِنَّهُ لَا يَعْلَمُ مَا خَلَفَهُ بَعْدَهُ عَلَى فِرَاشِهِ ) [ صحيح مسلم: ٢٧١٤ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلی الله علیه وسلم فرمايي: کله چې تاسو کې څوک خپلې بسترې ته راشي نو په خپل څادر دې بستره وڅنډي او د الله نوم دې پرې یاد کړي، ځکه دا نه پوهیږي چې په بستره باندې څه شی پراته دي؟

**د کاسې له څنډو نه خوراک کول:**

٤٦ – : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلَا يَأْكُلْ مِنْ أَعْلَى الصَّحْفَةِ، وَلَكِنْ لِيَأْكُلْ مِنْ أَسْفَلِهَا، فَإِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ مِنْ أَعْلَاهَا ) [ سنن ابي داود: ٣٧٧٢ ]

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: تاسو کې چې کله څوک خوراک کوي نو د کاسې له بره سره دې خوراک نه کوي، بلکې له لاندې نه دې خوراک کوي، ځکه د طعام په سر باندې برکتونه راښکته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ښځو جامې اوږدول:**

٤٧ - : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا ذُكِرَ فِي الْإِزَارِ مَا ذُكِرَ، قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: فَكَيْفَ بِالنِّسَاءِ؟ قَالَ: «يُرْخِينَ شِبْرًا». قَالَتْ: إِذًا تَبْدُوَ أَقْدَامُهُنَّ، قَالَ: «فَذِرَاعًا، لَا يَزِدْنَ عَلَيْه» ) [ سنن النسائي: ٥٣٣٨ ]

ام سلمه رضي الله عنها وايي چې نبي صلی الله علیه وسلم چې کله د لنګ – پرتوګ – متعلق هغه څه وويل چې ويې ويل: نو ام سلمه رضي الله عنها ورته وويل: ښځې بايد څه وکړي؟ هغه وويل: يوه لويشت دې اوږد پرتوګ وکړي، هغې وويل: نو بيا يې هم خپې (قدمونه) ښکاره کيږي! هغه وويل: پرتوګ دې يو څنګل اوږد وکړي او له دې نه دې نه اوږدي.

**د دم په مهال درمند ځای باندې لاس کېښودل:**

٤٨ - : عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ الثَّقَفِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ شَكَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعًا يَجِدُهُ فِي جَسَدِهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مُنْذُ أَسْلَمَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِي تَأَلَّمَ مِنْ جَسَدِكَ، وَقُلْ بِاسْمِ اللهِ ثَلَاثًا، وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرِ ) [ صحيح مسلم: ٢٢٠٢ ]

ژباړه: عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته د اسلام له راوړو وروسته په خپل بدن كې له درد څخه شكايت وكړ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: خپل لاس دې د بدن پر هغه ځاى كېږده چې درديږي او درې ځله بسم الله ووايه، او بيا اووه ځله ووايه ( اعوذ بالله... ) د الله او د قدرت پورې يې له هغه شر نه پناه نيسم چې زه يې درد محسوسوم او ترې ويريږم او ځان ترې ساتم.

**له خوب نه وروسته پوزه وينځل:**

٤٩- : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلَاثَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَرَّاتٍ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَبِيتُ عَلَى خَيَاشِيمِهِ ) [ صحيح مسلم: ۲۳۸ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: په تاسو کې چې کله څوک له خوب څخه راببدار شي نو درې ځله دې پوزه وويندځي، ځکه شيطان يې په خيشوم – پوزه – کې شپه تيروي.

**خطبه لنډه او لمونځ اوږد کول:**

۵۰ - : عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ خَطَبَنَا عَمَّارٌ، فَأَوْجَزَ وَأَبْلَغَ، فَلَمَّا نَزَلَ قُلْنَا: يَا أَبَا الْيَقْظَانِ لَقَدْ أَبْلَغْتَ وَأَوْجَزْتَ، فَلَوْ كُنْتَ تَنَفَّسْتَ فَقَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «إِنَّ طُولَ صَلَاةِ الرَّجُلِ، وَقِصَرَ خُطْبَتِهِ، مَئِنَّةٌ مِنْ فِقْهِهِ، فَأَطِيلُوا الصَّلَاةَ، وَاقْصُرُوا الْخُطْبَةَ، وَإِنَّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا ) [ صحيح مسلم: ۸۶۹، صحيح الجامع: ۲۱۰۰ ]

ژباړه: ابو وائل وايي عمار رضي الله عنه مونږ ته لنډه خطبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړه کله چې له ممبر نه راښکته شو مونږ ورته وويل: خبرې دې ښې وکړې خو ډېره لنډه خطبه دې وويله، که خطبه دې لږه اوږده کړې وی ډېره به ښه وه، هغه وويل: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې د سړي د اوږد لمونځ او لنډه خطبه د هغه د علم نښه ده، لمونځ اوږد وکړئ او خطبه لنډه ووايئ، او هرومرو ځيني بيانونه – په اثر او زړه راښکلو کې – د سحر په څېر وي.

الحمدلله الذي بنعمته تتم الصالحات، والحمدلله طيبا كثيرا مباركا فيه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**